چا چې زما د دې اودس په څېر اودس وکړ، بيا يې دوه رکعته لمونځ وکړ او له ځان سره يې پکې خبرې ونه کړې (يعنې له وسوسو يې ځان وژغوره) ټول مخکني ګناهونه به يې ورته وبخښل شي

له حمران - د عثمان بن عفان له ازاد شوي غلام - څخه روايت دی چې هغه عثمان وليده چې د اودس لپاره يې اوبه راوغوښتې، نو له لوښي څخه يې په لاسونو اوبه راتوی کړې او درې ځلې يې ومينځل، بيا يې ښی لاس لوښي ته ښکته کړ، بيا يې خولې ته او پوزې ته اوبه واچولې او پوزه يې سوڼ کړه، بيا يې درې ځلې مخ پرې مينځه، او لاسونه يې تر څنګلو پورې درې ځلې وومينځل، بيا يې په سر مسحه وکړه، بيا يې دواړه پښې درې ځلې ومينځل، بيا يې وويل: پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - مې وليده چې زما د اودس په څېر اودس يې کاوه او وييل يې: « چا چې زما د دې اودس په څېر اودس وکړ، بيا يې دوه رکعته لمونځ وکړ او له ځان سره يې پکې خبرې ونه کړې (يعنې له وسوسو يې ځان وژغوره) ټول مخکني ګناهونه به يې ورته وبخښل شي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

عثمان رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اودس کولو طريقه په عملي بڼه وښودله، د زيات وضاحت لپاره يې اوبه راوغوښتې، نو درې ځلې يې په لاسونو راتوی کړې، بيا يې خپل ښی لاس په لوښي کې ښکته کړ، اوبه يې تري راواخيستې، خولې ته يې واچولې او په خوله کې تاوې راتاوې کړې، بيا يې راوويستلې، بيا يې اوبه پوزې ته دننه کش کړې، بيا يې سوڼ کړلې، بيا يې خپل مخ درې ځلې وومينځه، بيا يې د څنګلو په شمول لاسونه درې ځلې وومينځل، بيا يې خپل لوند لاس يو ځل په سر راښکود، بيا يې پښې له ښنګرو سره درې ځلې وومينځلې. بيا چې کله هغه رضي الله عنه له اودس څخه فارغ شو نو هغوی ته يې خبر ورکړ چې هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ليدلی دی چې د دې اودس په څېر اودس يې وکړ، او رسول الله صلى الله عليه وسلم هغوی ته زيری ورکړی دی چې چا د هغه د اودس په څېر اودس وکړ او دوه رکعته لمونځ يې وکړ، په داسې حال کې چې د خپل رب په وړاندې له عاجز او د زړه له حضور سره ودريد، نو الله تعالى به پدې بشپړ اودس او دې خالص لمونځ اجر وکړي، داسې چې ټول مخکني ګناهونه به يې وبخښي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3313